مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۷/۲۲

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

**(د افغانستان سیاسي تأریخي ګزیټر)**

## پینځم ټوک

## کندهار

## او

### د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه او اته ځلوېښتمه پرله پسي برخه

ایډیټ:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**معروف: معروف**: ۳۴ – ۳۱، ۳ – ۶۷ «ن» معروف یا ماروف د کندهار په ولایت کې د یوۀ کلي او یوې ولسوالۍ نوم دی. دا ولسوالي ۳۲۴۵ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر د ۴۶۸۱ او ۸۶۰۴ تنو ترمنځ اټکل کړی دی. د دې ولسوالۍ کرښې: لویدیځ: د ارغسان، شمال: د شینکۍ اتغر او د شملزیو ولسوالۍ او په ختیځ او سویل کې له پاکستان سره «کرښه – ژ» لري. د معروف ولسوالۍ ۱۲۵ کلي لري چې هیڅ کلی ئـې له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي نـۀ دي لرلي. لنډ مهال مجلې د دغو کلیو نومونه په لاندې ډول ثبت کړي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| خوګیاڼي | د ولسوالۍ مرکز | | سم چک | Samchak | محمدزي علیا |
| محمد زي سفلی | شیخانزي علیا (شیخانزیو کاریز) | | شیخانزي سفلی | | رشکیه «سنځله تان کاریز» |
| انا خیل | غونډۍ | | شاه خیل | | دَر خیل |
| ځیرک | کاویده «ګاویده» | Kawida ( Gawida) | خالو زي | | قناتِ مهربان خیل «کاریز باهو» |
| مهربان خیل | دو لَـګي | | میرو خیل | | عزیز خیل |
| تور وام | قلعۀ جلوه-ابو «هبو کلا» | Jelwa Kala -i--Abu (Habu Kala), | ډاګ «دیګ او میدي زي» | Dag (Deg wa Medizai) | تاروه |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لنډۍ | | پیارخه | Piyarukha | پشني | Pashni | تاري | Tarai |
| نظر خیل | | چوکِ چن دود | Chawki Chandud | پاني زي تـوغاره | Panizai -i- Tugharah | تنگي توغاره | |
| بي بي تـوغاره | | لگي توغاره «لتي» | | چوکِ توغاره «چوگي» | | قنات توغاره «قناتِ کلان – توغاره» | |
| کرزي | | کاریز | | سپین گي توغاره | | مالي توغاره | |
| نقر زي توغاره | | خالو زي توغاره | | تگي توغاره | | الکوزي | |
| ماشو زي | | خضر خیل | | قناتِ کلانِ اسحق زي | | پیر زي | |
| پاڼ | | زیارت | | کاریزگي | | بک له | |
| کاس | | چوري | | بیله | | جَوَرکان «شاوَرکان» | |
| چشمهٔ غلزی «چشمهٔ علي زی» | | محراب «مار آب» | | بوکاهني «سوگه نې» | Bokahni (Sogani) | غبرگي | |
| گزک «گلنگ» | | کنگِ خورد «لنگرِ خورد» | | کنگِ کلان | | سکندر زي | |
| کارولي | | غازي بیله | | تال زوی | | غریب «غریبِ سیلسن/ ثالثون» | |
| حاجي گل | | سامو | | دیوالگي | | غونډۍ | |
| تالیری – سیلسن/ ثالثون | | گودري «گادای» | | خون دره | | پارانگر | |
| بلخي زي | | سم چکِ پوپلزی | | هډو زي | | سور وام | |
| نیک والـهٔ | | باړه خیل | | وچه چینه | | بلبل شاه | |
| اینځر | | چشمهٔ آب تو «ابو چشمه» | | آب تو | | بسم الله | |
| زغمی | | سیدار خیل | | سیلسن/ ثالثون «ورگي سیلسن/ ثالثون» | | صوف «صوف آب تو» | |
| والگي | | عثمان خیل | | سلیمان زي | | سره | |
| رنگي زي | | چرمي «چرمي سکندرزي» | | علي شیر | | کوتګي چاکه زی «کوتګي» | |
| چنگازي کوهل | | قناتِ کلان«قنات کلانِ اسحق زي» | | قناتِ خوردِ اسحق زي | | تابي | |
| بهلول زي | | تاني کاریز سیلسن/ثالثون | | بول بار | | تاخوم | |
| زور وام | | خواجه الزي | | فوما خیل | fuma Khel | اختو خیل | Akhtu Khel |
| سلیمان زي | | دلیل خیل | Dalil Khel | کلا | | شین خیل | Shin Khel |
| سرپازي | Sarpazi | تنگی | | بابر خیل | Babur Khel | آب تو سیلسن/ ثالثون | |
| غـلـه | Ghala | غوري | | پروک زي | Paro kzai | قناتِ نهر | |
| زیارت کلی | | باش بي | Bashbi | کاریز | | شخ ناته | Shakhnata |
| سرخوشي | | درگي توغاره | | | | | |

دا ولسوالي په ۱۹۱۴ز کال کي په لاندي ډول شرحه سوي ده:

هغي سیمي چي د ارغسان پورتنی سرچیني جوړوي په همدې نوم ولسوالی ختیځ کي، د توبې شمال کي او د غلزي د سیمي په لویدیځ کي واقع ده. د درانیانو بنسټ اینښودونکي احمد شاه په معروف کي ډیر پیاوړی مرکز درلود او دا ځای د هغهٔ د خوښي وړ استوګن ځای وو. هغهٔ په ۱۷۷۳ز کال کي همدلته خپل له پـیـنـو ډک ژوند - لاره پای ته ورسوله. د معروف کلا د ارغسان د سیند په بنی غاړه کي د کندهار د ختیځ په تقریباً ۹۰ مایلی کي او د توبې د لوړي سطحي له شمال څخه ۷۰ مایله لیري واقع ده. ویل سوي چي د زړاهٔ کابل د جګړي په ترڅ کي [ښایي دلته لیکوال تاپيي تیروتنه کړي وي دلته باید موخه ئـې د زاړهٔ کندهار جګړه وي – ژ] دا کلا څکه د اهمیت وړ وه چي د کندهار، قلات غلزایي، غزني، دیره جات او کویټي تر منځ د سړکونو د تلاقي ځای کي واقع ده. دا کلا قسماً «اوترام» له منځه یوړله، اوترام د دې کلا دروازه، او یو شمیر بنستیز برجونه د دې لپاره ونړول چي له بارکزیو څخه غچ واخلي څکه بارکزیو د بنګال د قطار د سترې برخي قتل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

عام کړی وو. د دې ځای ملک دا مهال سیف الله خان نومیدهٔ، نوموړی د ارغسان د درې د بارکزیو مشر وو چې په چم ګاونډ کې ئـې د بارکزیو د کورنی نورو نامتو مشرانو ځمکې درلودلې. هغه راپورونه چې د وروستي کمپاین په لړ کې راغلي دي د دې ځای په هکله دومره ډېر معلومات په لاس نـهٔ ورکوي. له قلات غلزایي څخه تر کندهار پورې یو ځواک د خشک رود او ارغسان له لارې د ۱۸۷۹ز کال د فبروری په میاشت کې مارش وکړ او د دې ځای له ۲۵ مایلی واټن څخه تیر سو. شک نـهٔ سته چې د ارغسان د درې له لارې له کندهاره تر معروف پورې یو نسبتاً ښـهٔ سړک راغلی دی.

په ۱۸۷۹ز کال کې «د برتانوي ځواک یو کتار – ژ» د نور محمد له کلا څخه تر کندهار پور راغی، دوی راپور ورکړ چې دا سړک د توپچي ځواک د تګ لپاره له یو ځای په استثناء چې هلته ډېرې راتولې سوې دي او د الوزولو لپاره ئـې سورنګ ته اړتیا ده، عملي لاره ده. ویل سوي چې کلا د یوهٔ غرهٔ تر ناګهان لاندې واقع ده چې د «بیزو مهمیز» [1] نومیږي.

د اوترام له نظره دا په ټولو هغو کلاګانو کې چې نوموړي افغانستان کې لیدلي دي تر ټولو پیاوړې کلا ده.

په خپله معروف چې «۶۰۰۰ فیته؟» لوړوالی لري ویل سوي چې د تقریباً د یوې ګردی یا مدورې لوړې سطحې په مرکز کې واقع دی چې ګرد چاپیره ترې غرونه راتاو دي خو په عام ډول ډیره ښه کرل سوې ولسوالي ده او تر یوې کچې ونې لري. پرایير چې په ۱۸۷۹ز کال کې ئـې د دې ځای د ۱۵ مایلی په شعاع د کشف ماموریت تر سره کړ وایي چې د ارغسان سیند چې د تلسکوپ له لارې لیدل سوی ښیي چې د دې ښارګوټي په شمال کې په یوې ژورې درې کې بهیږي چې په لویدیځه خوا کې ئـې د ونو یوه اوږده تړانګه له لویدیځه مخ پر ختیځ غځیدلې ده. پرایير وایي چې د غرونو یوه لړۍ مې ولیدله چې یو مهمیز ئـې د ښارګوټي له سویلي پای څخه را نیږدې سوی او په ښارګوټي باندې په بشپړ تسلط ولاړ دی. دا ښایي هماغه مهمیز وي چې پورته ئـې یادونه وسوه. ویل سوي چې په ۱۸۹۵ز کال کې د معروف مشر عبدالحکیم خان نومیدهٔ. د اړتیاوړ توکو په هکله په کندهار کې یوهٔ «خبر لیکونکي / خبر لوځ» [2] د ۱۹۰۴ز کال د آګست په میاشت کې وویل چې د معروف د حاکم په امر د ارغسان د ولسوالی له پورتنی برخې څخه راټول او په معروف کې زیرمه سول.

ویل سوي چې د معروف په ګودام کې ۱۰۰۰ خرواره غلات زیرمه دي. «همدا شان وګورئ: ارغسان» (اوترام، براډ فورډ، پرایير، آی. بي. سي، بومي معلومات ۱۹۰۴)

ویل سوي چې دم مهال په معروف کې ۱۰۰ تنه خاصه داران ځای پر ځای دی. په ۱۹۰۱ز کال کې دلته د پلي ځواک دوه کنډکونه او د سپارهٔ ځواک دوې رسالي ځای پر ځای سوي دی.

معروف بادام، انګور او اینځر صادروي چې «د بلوڅستان شمال کې» توبې ته قاچاق کیدل. انګور او اینځر د امیر د ګمرکي محصولاتو له پلوه د مالیې وړ دي او د بادامو صادرات په بشپړ ډول منع سوي دي. په دې قاچاق کې له خرونو څخه ځکه کار اخیستل کیږي چې د اوښانو په پرتلې په آسانه پټیدای سي. ویل کیږي چې د امیر پوستې د بادامو دا قافلې نـهٔ دَرَوي مګر دا چې قافله واله د «دستور» [رشوت – ژ] د ورکړې وسعه ونـهٔ لري.

په معروف کې د وسلو جوړولو او یا د جامو جوړولو تولید نـهٔ تر سره کیږي. د دې ولسوالی لوړوالی ښایي له ۶۰۰۰ فیټو ټیټ وي ځکه چې هر کال انګور په کې رسیږي یا پخیږي.

---

1 - Monkey Spur
2 - newswriter


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د معروف شاو خوا ټوله سیمه تر ډیره کرل سوې او له دې ځایه د اړتیا هر ډول توکي تر لاسه کیدای سي. «آی. بي. سي. ۱۹۰۱»

**مسارزي:** موسی زي: دا د اڅکزیو یوه څانګه ده. دوی هماغه موسی زي دي. «آی. بي. سي.»

* **ماشاء الله:** ۱۱ – ۳۱، ۴۰ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د کدني د سیند د ختیځ په تقریباً ۴ مایلۍ کې افغان سرحد ته نیږدې یو کلی دی.

* **ماشي:** ۴ – ۳۱، ۱۹ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک او ډبرۍ تر منځ د سړک په تقریباً نیمایي لاره کې یو کلی دی.

**ماشوم کاریز:** – ۳۱، – ۶۵: دا د «بوري» [3] د سړک په اوږدو کې د کندهار د شمال ختیځ په تقریباً ۱۷ مایلۍ کې یو کلی دی.

**ماشور:** ۳۱ – ۳۱، ۳۷ – ۶۵ «ن»: دا «بالندي» [4] ته نیږدې د کندهار د سویل لویدیځ په ۸ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

* **ماشو زي:** [5]: ۳۲ – ۳۱، ۵۹ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ارغسان د سیند د سویل په تقریباً ۳ مایلۍ کې شیخ زیو ته نیږدې یو کلی دی.

* **مسعود کلی:** ۴۳ – ۳۲، ۱۰ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د تیرین د سیند پر غاړه د میر آباد د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

**معصوم کلی:** ۲۵ – ۳۱، ۴ – ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «ایزغومي» [6] د اوبو د بهیر د یوځای کیدني ټکي ته نیږدې د سیلسن/ ثالثون د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**ماتیک زي:** [7]: دا د اڅکزیو یوه څانګه ده.

**مولا داد کاریز:** – ۳۱، – ۶۶: دا د کندهار د ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې د ترنک د سیند په کیڼي غاړې کې یو کلی دی. «بیسکو»

* **مولا زا:** «مولا زاده»: ۱۲ – ۳۱، ۹ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ډبرۍ د شمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې له سپین بولدک څخه تر کندهار پورې د سړک په اوږدو کې یو کلی دی.

**مزه:** وګورئ: موهات

**مزنګان:** ۳۰ – ۳۱، ۳۳ – ۶۵: دا «ناخوني» [8] ته نیږدې د کندهار د سویل لویدیځ په ۱۱ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

* **مزار:** ۴۶ – ۳۲، ۲۸ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د دهراوت د شمال په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې د هلمند د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **مز غر:** ۴۶ – ۳۲، ۱۵ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې جنګله ته نیږدې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

---

3 -Bori road

4 - Balandi

5 - MASHUZAY: ددې نوم تر څنګ ئې په عربي الفباء «مشو زي» لیکلي دي حال دا چې دا باید «ماشو زي» وي - ژ

6 - Izghumay

7 - MATIKZAI

8 - Nakhuni



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**مازو کاریز**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د خاکریز په دره کې یو کلی دی. «لینس»

**مزره**: مرزعه: مزرع: ۴۱ – ۳۱، ۴۱ – ۶۵ «ج»: دا د بابا ولي د کوتل د شمال په تقریباً یو نیم مایلۍ کې د ارغنداب په درې کې یو کلی دی. مخکې له دې چې سردار محمد ایوب خان د ۱۸۸۰ز کال د سپتمبر د میاشتې د لومړۍ نیټې په شنۀ سهار د ډګرجنرال سر فریدریک رابرتس له لاسه ماته وخوري نوموړي همدې کلي ته نیږدې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړي ول. «آی. بي. سي.» *په دې نوم بل کلی د بابا ولي د زیارت د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې په ۳۹ – ۳۱، ۴۰ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**مزرع اوس**: مزرع عوض؟: وګورئ: زره مزره یا مزرعه؟

**معز الله خان کاریز**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د کندهار د ختیځ په تقریباً ۲۳ مایلۍ کې جبه دار ته نیږدې یو کوچنی کلی دی. «بیسکو»

**مهراب**: مهراب یا د مهراب ناور د بلوچ پر سرحد په ښوراوک کې له جت پوټي څخه ۲۵ مایله لیرې یو ځای دی. دلته د اوبو یوه کوچنۍ زیرمه ده چې په قوم بلوڅ مهراب خان جوړه کړې وه. «آی. بي. سي.»

**مهراب**: وګورئ: باغِ مهراب

**مهرداد کاریز**: ـ ۳۲، ـ ۶۵: دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی چې د خاکریز او لام تر منځ په یوې غرنۍ سیمې کې واقع دی. « لینس»

**میل**: مـِـل :ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا له چمن څخه تر کندهار پورې د مستقیمې لارې په اوږدو کې د ۱۵ مایلو په اوږدوالي او د ۵ مایلو په ارتوالي یوه دره ده. دا دره د میل مانديې په اوبو خړوبیږي. د میل د درې د کلیو په هکله لاندنی راپور چې کلیفرډ چمتو کړی دی په دې هکله تر ټولو نورو راپورونو ښــۀ معلومات په لاس ورکوي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د کندهار – چمن سړک لویدیځ کې | | | | | |
| ۱ | میر بُلَند | | ۷ | باز | |
| ۲ | ملا یارو | | ۸ | محمد خان | |
| ۳ | میري آیا | Meri Aya | ۹ | خواجه عمران | |
| ۴ | باز محمد | | ۱۰ | محمد دِه | Muhammad Deh |
| ۵ | محمد سید | | ۱۱ | ولي محمد | |
| ۶ | زبر دست | | | | |
| د پورته یاد سوي سړک ختیځ کې | | | | | |
| ۱ | زر داد | | ۵ | میر حماد | |
| ۲ | محمد یار | | ۶ | باز محمد « پلوپلزی » د میل د کاریز د پوستي په ۲/۱ ۲ مایلۍ کې | |
| ۳ | شیر محمد | | | | |
| ۴ | عطاء محمد | | | | |

د باز محمد له کلي په استثناء نور ټول دا کلي یا کیږدی دي یا څپرۍ، ځینې کیږدۍ په اوږدو، زیږو تورو کمپلو پوښل سوي دي او نور ئـې د لرګیو د څپریو پوښ لري چې د شین غزي له څانګو جوړې سوې دي او پر سر باندې ئـې د درویو ټینګ اوږد پوښ ورکړل سوی چې دوی ئـې «نی» بولي. ناشوني ښکاري چې کلیو ته کوم موقعیت وټاکو څکه دوی تل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

خپل ځایونه بدلوي. هر کلی له ۱۰ تر ۲۰ څېرې لري. د باز محمد کلی چې کلیوال ئې په قوم پوپلزي دي څلور یا پینځه کورونه لري چې بامونه ئې گنبدي دي. د نوموړي څو تنه خپلوان د میر حماد کیږدیو ته نیږدې یو شمیر گنبد لرونکي کورونه لري. له دې استثناء او د غلزیو له پینته دوه یا درې کورنی چې د عطاء محمد د کلي په کیږدیو کې ژوند کوي د میل پاتې نور ټول استوگن وگړي د اڅکزیو د کاکوزیو له څانگې څخه دي.

د چمن – کندهار د سړک د غاړې د ختیځ کلي خپلې اوبـهٔ له گاونډیو کاریزونو تر لاسه کوي؛ دا هغه کاریزونه دي چې د څاهانو لویدیځ کې دي. کله چې یوه کیږدی له یوهٔ ځایه بل ځایه ته ځي نو هرومرو نوي ځای کې یوه څاه کیندل کیږي؛ خاوره نرمه ده او اوبـهٔ په عام ډول د ځمکې د سطحې په ۲۰ فیټې ژوروالي کې موندل کیږي. د درې ظاهري پراختیا ته په کتنې سره د کرل سوې ځمکې اندازه ډیره لږ ده. کرل سوې ځمکې عمدتاً د میل د نالې پر غاړو د بورغانې د سړک په اوږدو کې د درې له سره تر پایه طول کې ځغلې لیدل کیږي او دا ناله د ډورې له سیند سره یوځای کیږي چې د شمال ختیځ له لورې مخ پر سویل لویدیځ بهیږي.

د اوسمهال لپاره ټول کلي د هغوی د ملکانو په نومونو نومول سوي دي. اوسنی لوی ملک میر بُلَند نومیږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د کاکو زیو نور کلي په لاندې ډول دي : | | | |
| لومړی: د میل د درې او برغانې تر منځ: یعني | | | |
| ۱ | اسلم | ۵ | ارسلا |
| ۲ | شیر محمد | ۶ | میسرو |
| ۳ | فیض الله | ۷ | عطاء محمد |
| ۴ | لالا خان | | |
| دوهم: په برغانه کې: یعني | | | |
| ۱ | حماد | ۳ | پیرو |
| ۲ | پیر محمد | ۴ | عظیم |
| دریم: په ماله هد کې: یعني | | | |
| ۱ | اکرم | ۴ | شیرین |
| ۲ | لودک | ۵ | رحمت الله |
| ۳ | نور الدین | | |

د میل د درې په گډون د دغو کلیو استوگن وگړي د ۳۵۰ او ۴۰۰ کورنیو تر منځ اټکل سوي دي وگورئ " کیږدی" د کاکوزیو ستره شمیره په دوبي کې د سامي د غرونو پر لور د خپلو رمو د پیولو او له تودوخي څخه د تیښتې په موخه خوځیږي. «کلیفرډ» د میل په نامـهٔ یو کلی د محمد حسن د ختیځ په تقریباً ۱ مایلی کې په ۱۴ – ۳۱، ۵۸ – ۶۵ «ج» کې ښیي.

**میل کاریز**: ۱۲ – ۳۱، ۵ – ۶۶ «الف»: دا د کویټې – کندهار د سړک پر غاړه یوه پوسته ده چې په ۱۸۷۹ز کال کې جوړه سوه او له ډبرې ورهاخوا ۱۱ مایله څلور فرلانگه لیرې واقع ده. د څښاک اوبـهٔ ئې له یوهٔ کاریز څخه دي او د څارویو لپاره د اوبو یوه زیرمه لري. دا پوسته استحکامي دیوالونه لري؛ په ۱۸۸۰ز کال کې دلته د ۱۰ سپرو او د ۳۰ تنو پلیو سرتیرو یوه قرارگاه وه. د کمپ وهلو سیمه ئې مخ خلاصې ده چې د جغل لرونکي ځمکې پر مخ ده. «آدم»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

"د استحکامي کلا دیوالونه اوس «۱۸۹۳» مهال په ښـهٔ حالت کې دي خو د تیرکښ لرونکو خونو ګنبدۍ په زاویو کې تر ډیره دننه لویدلي دي. په مرکز کې یو شمیر خوني د خاصه دارانو ګارد نیولي دي. «ییت»

په میل کې د یوهٔ نوي استحکامي سرای د ودانولو چارې اوس «۱۹۰۵» د نوامبر په میاشت کې پیل سوي دي. په چم ګاونډ کې استوګن وګړي کاکو زي دي او معتبر سړی ئې محمد شاه نومیږي. غلات دلته په ندرت تر لاسه کیږي خو اوښان، پسونه او وزې په غټ شمیر کې تر لاسه کیدای سي؛ د ۱۹۰۶ز کال د جون په میاشت کې دلته یو تن «ده باشي» او ۱۸ تنه خاصه داران دلته ول. «یومي معلومات، ۱۹۰۴ ــ ۰۵ ــ ۰۶ »

**میل منده**: میل مانده: ۵ ــ ۳۱، ۱ ــ ۶۶ «الف» دا د اوبو یو کوچنی بهیر دی چې اوبـهٔ ئـې د میل او بیدک په درو کې ډوبیږي. دا بهیر د هېډه له غرونو څخه سر راپورته کوي او مخ پر سویل لویدیځ لوري د ډوری له سیند سره تر یوځای کیدلو پورې بهیږي. «آدم، کمپبل» *اوسنی نقشې د «کښته میل» [م نوم په ۶ ــ ۳۱، ۲ ــ ۶۶ «ن» کې ښيي.*

**میشي**: یا: میر شاهي: ۴۶ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۵: دا علي آباد ته نیږدې د کندهار د شمال ختیځ په ۱۲ مایل کې یو کلی دی. «بیسکو»

نور بیا

**میان بولدک**: وګورئ: بولدک...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[9] - Kshatta Mil



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ